مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۶/۱۰/۱۸

# اغلې مېرمن مريم نواز شريف،

## روغه او ښکلي اوسي.

خبر شوم، چي چېرته دي په کومه وينا کې ويلي:

«پنجاب د رغېدليځيرکتيا (AI) زماني ته رسېدلی او پښتونخوا په ډبرپېر(عصرحجر) کې ژوند کوي!»

حيران شوم.

حيرانتيا مې د دې لپاره نه‌وه چي يوه مېرمن – چي د تمدن و مختګ اکټ کوي - څومره په اسانی يو لوی ملت ته سپکاوی کولای شي. هغه هم داسي يو ملت چي په ظاهره يې ګواکي د خپل هېواد برخه هم بولي. خلک د پرديو، ان چي لا د دوښمنو ملتونو داسي سپکاوی نه‌کوي. ښايي څه اشخاصو يا سياسي ډلو ته به سپکاوی کيږي، خو يوه بشپړ ملت ته سپکاوی عقلاني سياست نه‌دی.

په دې هم حيران نه‌شوم، چي ګواکي پوښتنه به وشي، چي د چا له لاسه؟ ځيني استدلال کوي، چي که پښتانه په ډبرپېر کې پاتي دي، خو د انګريز او بيا روسته د همدې پنجاب د دسيسو له لاسه.

ښايي په دې برخه کې به دا منطق رامخ ته شي، چي د هرولس د روسته پاتي ساتلو لپاره دوښمنان هڅي کوي، دا پخپله د ولس، د هغه د روښانفکرانو او ملي شخصيتونو مسئوليت دی، چي له شاتګپالني يې وژغوري او د رغېدلي ځيرکتيا زماني ته يې ورسوي. ښايي يوشمېر منتقدان استدلال وکړي، چي د نورو دسيسي، مداخلي او لوبې معقوله بهانه نه‌ده، چي ته د بشريت د چټک مختګ د کاروان مخي ته ځان وغورځوې او تر پښو لاندې يې دل شې، ته بايد پخپله پاځېږې، منډه زده کړې او په دې کاروان پسي وځغلې، نه دا چي په ډبرپېر کې پاتي شې او بيا نور ملامت کړې، چي دسيسه يې کړې او ته يوازې مظلوم يې. ښه دا به هم سمه وي.

زه حيران په دې يم، چي تاسو د خپلو پنجابي ټولنپوهانو او يا تاريخځېړونکيو نظريات هم نه‌دي لوستي. لږ ترلږه د پنجابي توکمو؛ مېرمن عايشه جلال او طاهرکامران يا بل هيندي - پاکيستاني ډاکتر مبارک علي ټولنپوهنيز علمي نظريات مو که لوستي وای، نو دومره هوايي او واهي خبره به مو کړې نه وای. د تاريخ علم او ټولنپوهنه يې راته وايي، چي ازاديغوښتنه د انسان خورا لرغوني غريزه ده، چي د خپل هويت او ملي درک له مخي يې هر ملت هڅه کوي ولو که د تمدن په هرپړاو کې وي. پښتانه که په ډبرپېر کې وي يا د رغېدلي ځيرکتيا (AI) په زمانه کې، دوی خپلواکي غواړي او نور دا نه‌مني چي د پنجاب تر يوغ لاندې ژوند وکړي، ولو که دا پنجاب بيخي زيات مختللی وي .

د رغېدلي ځيرکتيا زماني ته د پنجاب رسېدلو دعوا مو ناسمه ده، که موخه مو دا وي، چي د پنجاب خلک له Chat GPTڅخه پوښتني کولای شي، نو دا کار ستاسو په ژبه، په ډبرپېر کې پاتي پښتانه، هم کړای شي او که نه د نړۍ په اوسمهالي تکنولوژيک ډګر کې له پاکيستاني پنجاب څخه کوم نوښت لا په مايکرسکوب کې هم نه‌ښکاري.

بېرته راګرځم پښتنو ته. د روم د مرييتوب دوران ته ولاړ شئ، سپارتاکوس زرګونه مرييان راټول کړل او د يوې لويي امپراتورۍ په وړاندې يې د خپلواکۍ پاڅون وکړ، ګڼ شمېر يې ووژل شول، خو مرګ يې په ازادۍ کې و. دغو روسته پاتي پښتنو د ټولو يرغلګرو او په نومهالي تاريخ کې د مختللي انګريز او بيا پنجاب په وړاندې د ازادۍ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

جګړه کړي او کوي يې که دوی په هره زمانه کې وي او يا يې دوښمن په کومه مختللي زمانه کې وي، دا هېڅ مهم نه‌دي.
تاسو له ازادي‌غوښتونکي ملت سره مخامخ ياست، ولو که په ډېرپېرکي ژوند کوي .

يوه بله خبره هم په ياد ولره، چې د ډېرپېر په زمانه کې ژوندکوونکی ملت تر مختللي او لوکس ملت لا پسي ډېر ګواښمن اوخطرناک دی، پوهيږې ولې؟

د دې لپاره چې د له لاسه ورکولو لپاره هېڅه نه‌لري. د لمدو به څه لامده شي؟ پښتانه به له خپلو خړو ختينو کلاګانو، غرنۍ جغرافيا، ويجاړو کليو، بايللو ښارونو او لوټتالان شويو طبيعي زېرمو څخه نور څه وبايلي؟

انګريز يوه نيمه پېړۍ او بيا ستاسو متمدن(!) پنجاب نږدې اتيا کاله پښتونخوا داسي زبېښلي، دومره مو چور او تالا کړې، داسي مو له کرکي و عقدې ډکه کړې، دومره مو وژلي، داسي مو يې شتمنی ترې غلا کړي او دومره مو د دوی ملي غرور مات کړی چې نور نو د بايللو هېڅ هم ورپاتې نه‌دي او د خپلې ملي خپلواکی د ګټلو لپاره د ډېرپېر د ژوند هرڅه په اسانه په اوبو لاهو کولای شي.

له دوی ډېره وډاره شه!
پنجاب لوکس ښارونه لري، زيان‌منونکی دی، د تکنولوژي سپرورونه، برېښنايي بنسټونه، کارخوني، پوهنتونونه، ښارونه او فيوډال- کاپيټاليستي ژوند ژر اور اخيستلی شي، خو د پښتنو خړ پړ ډبرين غرونه چې لا پخوا يې هډونه انګريزي – پنجابي ښکېلاک ورشپېلولي او سيزلي دي، نور د اوراخيستلو لپاره هيڅه نه‌لري. له دوی سره نه‌کيږي.

د ملتونو سپکاوی انګريزانو تجربه کړی، پوښتنه ترې وکړئ، که بل‌څوک نه‌وي، خپل مؤرخان او تولنپوهان وپوښتئ.

درناوی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ